# د نړیوالو مرستندویه امنیتي ځواکونو عمومي قوماندانی
# کابل، افغانستان

د ترهګرۍ پر وړاندې د آیساف ځواکونو د مبارزې لاربښود
د خلکو ساتنه موخه ده.
برۍ د خلکو په هڅولو سره تر لاسه کیږي
نه د دښمن په لمنځه وړلو
ایساف به برۍ مومي کله چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي

د آیساف موخه دا ده چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره مرسته وکړي څو ترهګرۍ ته، چې هیواد یې لـه ګواښ سره مخ کړی ماته ورکړي او همدا شان د افغان ملت ساتنه ده. افغان ملت به تصمیم نیسي چې څوک بـه دا جګړه وړي. آیساف او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د دوی ملاتړ کوي او مونږ د هغوی د باور او ملاتړ پـه لاسته راوړلـو کـې زیار وباسو. هغه هلې ځلې چې مونږ یې د دوی د ملاتړ په لاسته راوړلو کې ترسره کوو، زمونږ د هرې کړنـې پایلـه بـه اووسي. په حقیقت کې افغانان زمونږ او د ترهګرۍ په منځ کې دوه زړي دي. دوی بـه د افغانستان د راتلونکي لپاره دغه دوو لارو څخه یوه وټاکي. دوی به پریکړه کوي چې کومه لاره په زړه پورې، د قناعت وړ او د برې ژمنه ورکوي.
افغان ملت له ډیرو اصلیتونو او قومونـو، چـې غښتلي دودونـه او د خپلـواکۍ غښتلی احساس لـري، جوړ شوی. د دوی د هیواد په زړه باندې د درې لسیزو ټپونه او پرهارونـه وهل شویدي او د ټولنو ټوکر څیری څیرې دی. د قومونو دودیز جوړښت د ترهګرو له لاسه لـه منځـه تللـی دی او زیـات شمیر ټولنې ټوټې ټوټې شویدي. نړیـوال شتون د اتو کلونـو پـه شـاوخوا کـې کومې ګټې یې لاسته ندي راوړي. څو چـې د بریـالیتوب هیلـه یـې نـه وي پیدا شوي، افغان ملت د هیڅ یو اړخ ملاتړ نه کوي.

> د آیساف د ګزمـې مـوټر لـه دې کبلـه چې خلـک او وسـایط لـه سړک څخـه لرې کړي په ډیرې چټکۍ سره روان وو. زیـاتره پلـي خلـک او موټرې لـه سړک څخـه لـرې کیـدل. یـو مـوټر د ښي اړخه له ترافیکي کړۍ څخه دننـه شـو. د ګزمـې مـوټر ټوپکـوال پـه نومـوړي مـوټر بانـدې د اخطـاري بـم ګوزار وکړ چې د موټر پـه منځ کـې وغورځیـد او مـوټر اور واخیسـت. څنګـه چې د آیسـاف مـوټر ترینـه پـه چټکۍ سره لرې شو خلـک لـه موټره چاپیر ودریدل. هغه ورځ مو څو تنـه ترهګر د ځان لپاره پیدا کړل.

مونږ ته لازمه ده چې خلـک وپیژنو او د دوی د سترګو له لارې لید وکړو. مونږ باید د هغوی ډار، مایوسي او تمې په پام کې ونیسو. مونږ یواځې د ترهګرو پـه وژلـو سره بریالیتوب نشو لاسته راوړلای. افغانان بـه هغـه وخت ځان بریـالي وبولي چې مونږ یې د ګواښ، ډار، تـاوتریخوالي، نـاوړې ګټې اخیستنې څخـه د داسـې لارې نـه وژغورو چې د دوی دین او دود ته پکې هم په درنـه سترګه وکتل شـي. دا پدې مانـا ده چې مونږ په خپلو کړنو، فکر او عملیاتو کې بدلون راوړو. مونږ باید ملت له ځان سره د کارنده ملګري په توګه د ټولنیز بریالیتوب په لاره کې یوځای کړو.

زمونږ هره کړنه باید دغه بدلون انځور کړي: څنګه له خلکو سره خبرې اترې او رویه کوو. څنګه بهٔ موټر چلوو، څنګه به الوتنه کوو، څنګه به ګزمې کوو، څنګه به د خپل ځواک څخه استفاده کوو او څنګـه بـه د کـاري پروګرامونـو او پـروژو بودیجه ټاکو.

دا د دوی هیواد دی او مونږ د دوی میلمانه یو. مونږ باید پخپلې هرې کړنـې کـې لـه پام څخه کـار واخلو او د خپلو کړنـو اغیز په خلکو کې، چې مونږ ورسره ملګري او د دوی د ساتنې لپاره راغلي یو، درک کړو. لـه ډیر ځـواک څخـه کـار اخیستل د امنیت د ټینګښت ژمنه نشي ورکولای. د ځواکونو څخه مناسبه ګټه اخیستل دا زمینـه برابرولای شـي چې خپلې شخصي اړیکې د افغان ملت سره لاټینګې کړو.

**ترهګري څنګه فعالیت کوي:**
مونږ په ډیر سخت ازمیښت کې یو او د یو متحرک (خوځنده)، بدلون مونـدونکي او د څو مخـې ترهګرۍ لـه ګواښ سره مخ یو. ترهګري یو منل شوی یوځې ګواښ ندی. ترهګري یو نیغ په نیغه برید ندی بلکې د یوې غیرې مستقیمې لارې نـه هڅه کوي چې دولت بې اعتباره وښایي او مونږ داسـې یـو غبرګون تـه ولمسوي چې خلـک راڅخـه پردي کړي. د آداري فساد او د واک څخه د چارواکو ناوړه استفادې، د ترهګرو استدلال غښتلي کړی دی. د جګړې د دوړو شاته، ترهګر پـه

اصل کې، په سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو، چې یوه برخه یې مالوماتي او استخباراتي فعالیتونه او د ملت د آدارې د لاسته راوړلو لپاره طرح شویدي، ژور پام کوي. او له دې لارې د حکومت مشروعیت کمزوری کړي.

مونږ باید په دې ښه پوهـ شو چې ترهګر د خپلې ستراتیژۍ د پلې کولو په موخه له مونږ سره څه ډول مقابله کوي هغوۍ د هرې سیمې د چاپیریال سره ځان برابروي. دوې هم د ګواښ او هم د جذبې له لارې په خلکو باندې اغیز ښیندي. هغوۍ د پروپاګنډ (تبلیغاتو) له لارې خلکو تـه د افغان کلتور او دین د ساتنې ژمنـه ورکوي. دوې ټولنیزې نـا آرامـۍ او شخړې منځته راوړي او عنعنوي جوړښت بې ارزښته کوي. پـه سیمو کـې د لارو واک پخپل لاس کې اخلي، پیسې راټولوي، د ډیرو سختو قوانینو له مخې خلکو ته سزا ورکوي. دوې د لارورکو خلکو ډلې لـه ځـان سره یو ځـاې کـوي، او ځوانـان د پیسو له لارې جګړې ته لیږي. دوې د آیساف د نیمګړتیاوو او بیځایه کړنو څخه ګټه اخلي څو خپل اختلاف خلکو تـه ګټور ښکاره کړي.

**د دوې په لاس کې لوبیدل:** یو پوځي ځواک داسې روزل کیږي چې د یو پیژندل شوي او رسمي قانون له مخې د ترهګرو پر وړاندې مبارزه وکړي. دا دمانا ورکوي لکه یو پیاوړ غویي (غنان) د لوبغاړي په لور بې شمیره بریدونه کوي، پایلـه دا چې ځان هومره ستړی کړي چې د پخو نه وغورځیږي او د ډیر یو کمزوري سیال له خوا ماته خوري. دا د منلو وړ ده. هغه غویي په طبیعي توګه داسې کوي. که څه هم پیژندل شوې پوځي لاره فکر تـه راځي، خو کیداې شـي زمونږ د مـاتې لامل شي.

لومړی، ترهګري داسې یو جنګ ندی چې هغوۍ پکې ستړي یا مایوسه شي. د هغوۍ د جنګیالیو او مشرانو پـه شمیر کـې انتحا نشته. په اټکلي توګه د افغانستان د ۷۰% خلکو عمر د پنځه ویشتو کلونو څخه کم دی. ډیره بیکـاري، بـې سـوادي او یو پراخ سیاسي، ټولنیز ناراضیتوب ترهګرو ته په خلکو کې د نفوذ زمینـه برابـروي او په اسانۍ سره کولاې شي نور جنګیالي وګماري.

> د آیساف ځواکونو یوې ډلې په یوه سیمه کې د لارو پر سر د میوو ونو له آمله نشواې کولاې چې خپل ګاډي په اسانۍ سره وچلوي. له دې کبله چې کار اسان شي هغه میوه دارې ونې یې غوڅې کړې. د دغه کلي ډیر وګړي د دغه میوه لرونکې ونو څخه بې برخې شول. د یوې لنډې مودې وروسته په دغه سړک باندې د بمونو ځښول پیل شول.

د نړیوال نظر له مخې، که چیرې د ترهګرو لس کسیزې ډلـې څخـه دوه ووژل شـي نو اته تنه پاتې کیږي (۱۰-۲=۸) د ترهګرو په نظر هغه دوه کسان چې وژل کیږي د هغوۍ نور خپلوان بـه د هغوۍ غچ اخیستل غواړي او کـه پـه جګړه کـې بـې ګناه خلک ووژل شي دغه شمیره به نوره هم پورته شي. د دوه کسانو وژل به د ترهګرو په لیکو کې د ډیرو نورو کسانو د جلب او جذب لامل شـي. پـه اصل کـې لـس منفي دوه به د اتو پر ځاې شل او نور هم زیات شي.
دا د دلایلـو یـوه کـوچنۍ برخـه ده، چـې ولـې د اتـو کـالو د شخصـي او ځـاني لاسـته راوړنې په پایله کې پاڅون او تاوتریخوالی نور هم زیات شوی. ریاضـي د یـوې بـې مانا او خیالي جګړې پر ضد کار کوي. دا پدې مانا نده چې له جګړې په شاه شو، خو کـه وغواړو چې بریـالي شو، نـو د ترهګرو د وژلو او نیونې تر څنګ باید نور کارونه هم ترسره کړو.

دویم، د پیژندل شوي پوځي قانون له مخې د ترهګرو پر وړاندې جګړه ډیر لګښت ته اړتیا لـري او پـه ځـواب کـې یـې ګټه ډیره کمه وي. له دې کبله هغه خلک چې مونږ غواړو په امن کې یې وساتو، لـه مـونږ سره واټن پیدا کـوي. د زور زیـاتي څخه کار اخیستل به د اورپکو د نیولو او وژلو لامل شي خو تـر څنـګ یـې د بـې ګنـاه وګړو د مرګ ژوبلې د دوه اړخیز زیان لامل هم کیږي. بې ارزښته ده چې د چا په لاس کې بې ګناه خلک په یو اوربل کې وژل کیږي خو په پایلـه کـې مونږ د هغوۍ په ساتنه کې پاتې راغلو. د یوې کورنۍ د کور او مال له منځه وړلو کې مونږ د هغوۍ ټول ژوند ته زیان رسـولی شو چې دا د نورو ترهګرو د پیدایښت سبب کیږي.

سره د دې نه چې سخت عملیات کله کله آړین دي، مونږ به خامخا متوجې اوسو چې ګټه په دې حال چې هیـواد د ترهګرو د اغیز لاندې دی لنډمهالې دي. په بې نظمه ډول یوې سیمې ته د څو ساعتونو یا د څو ورځو لپاره ننوتل یواځې د دښمن د پلټنې لپاره او بیا بیرته راتلل ډیره لږه ګټه رسوي او کیداې شي چې زیـان یـې لـه دې زیـات هم وي. سیمه ایز ترهګر پـه لوړو کې پټیږي او خلک بې تصمیمه پاتې کیږي. هر کله چې مونږ لـه سیمې نـه ولاړ شو ترهګر بیرتـه راکوزیږي او د خلکو ورځنی ژونـد د هغوۍ د آدارې لانـدې پیلیږي. دا عملیـات نـه یـواځې دا چـې بـې اغیزې دي بلکـې امکـان لـري چـې دښمن ته نورې ګټې هم ورسوي. د دغه عملیاتو په ترڅ کې مونږ د ملت سره اړیکې نه جوړوو او له افغانانو سره مرسـته

نه کوو چې ستونزې يې هواري شي. په لنډه توګه مونږ آړ نه یو چې دومره بې عقله اووسو چې ناکامه شو، یواځې زمونږ نژدې کیدل او له خلکو سره چلند سم ندی.

**خپل فکر ته بدلون ورکول:** پدې خاطر چې بریالي شو، نو آړینه ده چې خپل فکر او کړنو ته بدلون ورکړو. اصلي موخه د خلکو "خوښه" ده. د تر هګرۍ پر وړاندې یو اغیزمن برید د دوې په فکر، هغه یو دی چې د ترهګرو نه هغه څه واخلي چې نه یې غواړي د لاسه یې ورکړي. هغه په خلکو واکمني ده. مونږ باید د تیري کوونکو عملیاتو په آړه داسې فکر ونه کړو چې یواځې جنګیالي په نښه کړو مګر هغه عملیات مهم دي چې د ملت باور او اعتبار لاسته راوړي. او په عیني حال کې وکړای شي د ترهګرو د اغیز او نفوذ مخه ونیسي. د ټولنو مشرانو سره رواني جرګې کول څو اعتماد منځته راشي او ستونزې هواري کړي، چې دا اغیزمن عملیات بلل کیدلای شي. همدارونګه هغه پروژې او کاري پروګرامونه منځته راشي څو وکړای شي ټولنې سره یو ځای کړي او د هغوی اړتیاوو ته ځواب ووایي. دا اغیزمنه موخه نه شي کیدلای چې یواځې جنګیالي سره ګډوډ کړي.

د ترهګرو پر وړاندې مبارزې ته د یوې جګړې په توګه فکر کیږي چې وکړای شي د ملت اعتماد لاسته راوړي. دا یوه سیالي ده، چې ستنه یې د خلکو په رښتینو آټکلونو ولاړه ده څو تصمیم ونیولای شي چې د کومې ډلې ملاتړ وکړي. زمونږ هره یوه کړنه، غبرګون او یا په کړنه لاس نه پورې کول، ټول د دغې سیالۍ برخې دي. په دغه نندارتون کې خلک ګوري اوري او ټاکنې په هغه بنسټ کوي چې څوک کولای شي د دوې ساتنه او اړتیاوې پوره کړي، د دوې عقیدې او ټولنې ته په درنه سترګه ګوري او د راتلونکې لپاره یې فرصتونه برابروي. مفکوره او تګلاره کولای شي په پایله باندې اغیزمنه اووسي. مګر د هغوی ورځني ژوند او بقا په پام کې نیول لومړنۍ موخه وګرځول شي. مونږ باید د ترهګرو مخالفت بې ارزښته وښایو او په عیني حال کې خلکو ته نوره ښه لاره مخکې کړو. زمونږ سپارښتنه به خلکو ته د ستایلو او ښه چال چلند له لارې داسې مخکې شي، چې مونږ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره یو ځای ژمن اووسو او وکړای شو د خلکو ژوند غښتلي کړو. مونږ ټول سره یو ځای ته لازمه ده چې د دغه سترې او نامطمینه ملت ته یو قانع کوونکی، ډاډمن عدالت او ښه ژوندون برابر کړو. مونږ باید د ډار او ناهیلۍ فکرونه په باور او اعتماد باندې بدل کړو. که چیرې وغواړو چې اغیزناکه اووسو باید په سیمه ایزه کچه خپله تګلاره کې هغسې بدلون راولو څو ملت د خپلې ټولنې په جوړولو او ساتنه کې لیوالتیا پیداکړي، نه دا چې له منځه یې یوسي. هڅه وشي چې اقتصادي پلانونه او د ټولنو د مشرانو سره جرګې تثبیت او منځته راشي څو ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي او د سولې له لارې، نا حلې مسئلې هواري شي او په عیني حال کې وکړای شي، هغه خلکو ته چې د ترهګرو سره یو ځای شوي د ښه ژوند فرصت برابر شي. دښمن مونږ ګوري چې مونږ پخپله انرژۍ او وخت باندې څنګه خپل پام متمرکز کړی او له دې حقیقت څه به سترګې پټول یوه خام فکر وي. دا حقیقت د خوځنده عملیاتو او په سیمه کې د پټو حکومتونو له خوا په خلکو چې په خلکو نفوذ لري تر سترګو کیږي. ښکاره ده چې دلته د موثرو عملیاتو لاره شته چې وکړای شي ترهګري بې تعادله کړي او هغه دا چې د هغوی پټنځایونو ته جګړه وروړل شي او پرینږدي چې په خلکو کې نفوذ او واک ولري. دا عملیات مهم دي خو زمونږ ماموریت ته یواځینۍ ځواب نشي کیدلای. دا عملیات به هغه مهال اغیزمن وي چې ترهګر د نور ملت څخه چې دوې ته ښه راغلاست نه وایي بیل کړي. له ټولنو څخه یې بهرته وباسي او پدې مجبور شي له سیمو څخه لرې ولاړ شي او له هغه لرې ځایونو څخه خپلو بریدونو ته دوام ورکړي. دغه شرایط بیا زمونږخوځنده عملیاتو اغیزمنتیا ته زمینه برابروي.

د آیساف په یو کتار باندې د یوه نژدې کلي څخه د راکټونو ډزې وشوې. د دې پر ځای چې پر هغوی برید وکړي قوماندان پریکړه وکړه چې لومړی یو څه مالومات راټول او د دښمنۍ دلیل ومومي. افغان ملي پوځ قوماندان د ګزې د ترسره کولو غوښتنه وکړه، وروسته بیا مالومه شوه چې پر دې کلي باندې دوه کاله وړاندې د شپې له خوا یو برید شوی وو. دا هم مالومه شوه چې دغه کلي کې کوم ښوونځی او نورې اړینې اسانتیاوې نه وې. څو ورځې وروسته قوماندان د ښوونځي د سامان آلاتو څخه ډکه یوه لارۍ دغه کلي ته واستوله، د هغې په سبا دکلي مشران د افغان ملي پوځ سره پوځې هډې ته راغلل چې د آیساف له قوماندانانو سره وګوري. د دغه کلي ماشومانو له سلو څخه زیات لیکونه پوځې هډې واستول. ډیر ژر د دغه کلي لپاره یو شمیر نوې پروژې ځانګړې شولې. هغه پروژې چې د دغه کلي لپاره مخکې له مخکې په پام کې نیول شوې وې.

د توازون ساتل ډیره مهمه او حساسه مسئله ده چې کوم ځانګړی فارمول او تګلاره ورته شتون نلري. ټولنې په خوځښت راولئ څو د ساتنې، ټیکاو او بري لپاره یې په عملي توګه ونډه واخلي چې او داسې شرایط رامنځته کړي چې د ترهګرۍ اغیز د تل لپاره له منځه ولاړ شي.

مونږ باید خلک، چاپیریال، هیلي وپیژنو او ورسره ګډ کار وکړو څو اړتیاوې یې تر سره شي. افغان کلتور د شخصي او خپل منځي اړیکو پر بنسټ جوړ دی. هڅه وکړئ چې خپله پنځه نوي سلنه انرژي په پنځه نوي سلنه هغه وګړو باندې ولګوئ چې زمونږ ملاتړ ته مستحق دي او اړتیا ورته لري. دغه چاره به ترهګر د خلکو څخه جلا کړي او پنځه سلنه د ترهګرو پر وړاندې هغه مهال ولګوئ چې بهتره فرصت ورته برابر وي او پرېښږدئ چې ستاسې مخه ستاسې د لومړنیو دندو څخه واړوي.

خلکو ته غاړه ورکړئ: اړیکې ټینګې کړئ او خپلو راتلونکو ځایناستو ت یې وړاندې کړئ. افغان کلتور د خپل منځي اړیکو پر بنسټ جوړ شویدی. د خلکو باور لاسته راوړل زمونږ د موخې یوه ستره برخه ده. د قومي، ټولنیزو او دیني مشرانو سره اړیکې ټینګې کړئ. بری خبرو اترو او ګډې ګډې همکارئ ته اړتیا لري. محروم، بې پرې، مایوسه خلک ولټوئ او راغونډ یې کړئ. په سیمه ایزه کچه هغه اندیښنې او ستونزې درک او هواري لارې چارې یې پیدا کړئ چې چې ټولنه د بې ثباتئ سره مخ کوي. له کوچنیانو او زده کوونکو سره کار وکړئ. افغان ملي امنیتي ځواکونه او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت چارواکي پردې اړ کړئ چې د دغه هڅو ملاتړ وکړي او ورته وښایاست چې څنګه دغه هڅې ترسره کولاې شي.

د آیساف یوه ډلې او د دوې افغان ملګري په یوه کلي کې په یوه جرګه کې چې له مخکې نه یو خطرناک پیژندل شوی کلی وو ګډون کړی وو. د مخکنیو جنګیالیو په ګډون پنځه سوه وګړو په دغه غونډه برخه اخیستې وه. نږدې ټول کلي هلته شتون درلود. دغه ډلې د څو میاشتو راهیسې د کلي له مشرانو سره اړیکې نیولې وې. څنګه چې آړیکې پیاوړې شوې او د ښاري پروژو له آمله ژوند ښه شوی وو او په کلي کې د کار زمینه برابره وه نو د کلي مشرانو د یوې جرګې جوړیدلو غوښتنه وکړه. د جرګې په ترڅ کې دوو ترهګرو په ساتونکو ډزې وکړې. پدې خاطر چې دا یوه مهمه جرګه وه او یو ځوان قوماندان چې د دغه اوپراسیون مشري یې پر غاړه لرله خپلو سرتیرو ته امر وکړ چې ډزې ونکړي. هغه پوهیدلو چې دا یوه ګواښوونکې برید وو او غوښتل یې چې جرګه ګډه وډه کړي. هغه د دغه پیښې راپور ولیږلو. جرګه پر مخ ولاړه وروسته، مشرانو هغه کسان چې ډزې یې کړې وې پیدا او سزا یې ورته وټاکله.

د خلکو، افغان ملي امنیتي ځواکونو او د افغانستان دولتي چارواکو سره د خپلو اړیکو څخه په ګټې اخیستنې هغوئ ته دا زمینه برابره کړئ چې په سیمه ایزه کچه مهارت پیدا کړي. خپله شاوخوا وپیژنئ. پیدا کړئ چې تر ټولو بریالی بزګر څوک دی او ولې، څوک ځان محرومه ګڼي او ولې، کومې کورنئ غښتلي دي او له چا سره خپلولي لري. په ټولنه کې یو مثبت ځواک اووسئ، خلک له زیان څخه وساتئ، امنیت او سوکالي رامنځته کړئ څو خلک په آرامئ او هواساینې سره د خپلې کورنئ روزنه او پالنه وکړي.

د یوې پروژې د زیان او ګټې په هکله په ژوره توګه آرزونه وکړئ. د خلکو په ساتنه کې له زور او زیاتي څخه کار اخیستل بیلوالی رامنځته کوي، بلکې د هیلو پربنسټ نه وي. داسې فکر وکړئ چې تاسې د یو بهرني ځواک څخه څهٔ تمه لرئ چې ستاسې په شاوخوا کې، ستاسې د کورنیو او ماشومانو تر منځ څه ډول عملیات ترسره کړي او له هغې سره سم عمل وکړئ. څنګه باید موټر وچلوئ، جامې اغوستل او ستاسو حرکات، چا سره د غرمې ډوډئ خورئ، په کوم ډاډ سره جنګیږئ، څه ډول د افغانانو خوښیو او ماتم ته ځواب وایاست، دا ټولې چارې د هماغې اختلاف برخه ده.

اختلاف وګټئ: د سیمه ایز پرمختګ او اقتصادي مرستې څخه په داسې ډول کار واخلئ چې وکړاې شئ د ټولنې مشران او خلک د دوې د بري لپاره سره یو ځای کړئ. خبرو ته یې غوږ ونیسئ، شراکت وکړئ نو ګټه به یې وګورئ. سیمه ایزملکیت او وړتیاوې رامنځته کړئ. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مشروع دولت سره په ګډه ټولې مسئلې د ښاري شوراګانو او ټولنو سره هوارئ کړئ. ملکیت وروزئ. لکه افغانان چې وایي، "که خولې پرې تویې کړې نو خامخا به یې ساتې".

په هره کچه د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره لاس یو کړئ. زمونږ دنده هغوئ ده چې هغوئ ته د افغان ملت د خدمت کولو او مسولیت احساس ورکول دي، څو د زیان او خطر نه یې وساتي. هغوئ ته د دې وړتیا وروښئ څو وکړاې شي د خپل هیواد ساتنه وکړي. د هغوئ بریالیتوب، زمونږ بریالیتوب دی. په ګډه ژوند او زده کړې تر لاسه کړئ. یو ځاې سره عملیات ترسره او پلانونه پلي کړئ. د یو شان چال چلند او مالومات پر بنسټ په ګډه جګړه وکړئ. د خپلې قوماندې او آدارو جوړښت سره یو شان کړئ، مخکې له دې پخپل چمتوالي وکړري، پریږدئ چې دوې مخکې اووسي او له شانه یې غښتلي کړئ. د پرمختګ د کولو لوست ورکړئ او حیران به شئ چې دوې څومره ژر کولاې شي د آدارې واک په لاس کې واخلي.

<u>د حکومت وړتیاوې او مسولیتونه رامنځته کړئ:</u> د ښه حکومت جوړونه د هر یو مسولیت دی. په هره کې د دولت وړتیاوې غښتلي کړی. هغه افغان مشرتابه ته زمینه برابره کړی چې د خلکو چوپړ وکړي. هغه خلکو ته واک په لاس کې ورکړی چې خپلو خلکو ته خپله پاملرنه، لیاقت او ژمنتیا وړاندې کړي مګر د ښو او د بدو ترمنځ توپیر وکړی. هغه خلکو سره مخالفت وښایاست چې شتمنیاني او واک انحصاروي او د خلکو له باور او اعتماد نه ناوړه ګټه اخلي. د خپلو افغان دوستانو سره یو ځای کار کولو له لارې د خلکو چالچند ته بدلون ورکړو او د افغان چارواکو څخه غوښتنه وکړی چې د آداري فساد د له منځه وړلو لپاره کوټلي ګامونه واخلي. که چیرې په دغه ستونزه سترګې پټې کړی نو تاسې به پخپله هم پکې راګیر شی. د خلکو ساتنه یواځې ځاني ساتنه نده بلکې د فساد او د واک څخه د ناوړه استفادې څخه هم باید وژغورل شي.

د پولیسو یوې مخکښې ډلې باور درلوده چې د یوې ولسوالۍ د افغان ملي پولیسو مشر یو فاسد سړی وو. د پولیسو د ډیرې مودې هڅې د ناکامیدلو وروسته، نو د پولیسو مخکښې ډلې د ولایت مقام ته قضیه وړاندې کړه. د ولایت مقام د پلټنو وروسته معلومه شوه چې نوموړې قضیې حقیقت درلود. د نوموړي فاسد پولیسو مشر پر ځای یې یو ریښتینی او زیارکښ کس وګمارلو او مخکینی د پولیسو مشر یې د قانون منګولو ته وسپارلو. سره له دې چې دغه بهیر څو اونۍ وخت ونیولو، د پولیسو مخکښې ډلې افغان مشرانو ته دا واک ورکړ چې خلک د دغه فاسد تن وژغورې.

<u>ورځ په ورځ لا ښه شئ:</u> پخپله سیمه کې د آوږدمهاله ثبات رامنځته کولو لپاره هڅې وکړئ. زده کړئ چې څنګه یو چاپیریال منځته راوړی او ځان ورسره براکړی، همدا راز څنګه د ټولنې له مشرانو او خلکو سره اغیزمن اووسی. خپلو افغان همکارانو ته غوږ کیږدی، له هغه افغانانو سره چې مخ کیږی خبرې وکړی، له هغوی پوښتنه وکړی چې څنګه کولای شی د هغوی د موخو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړی. تاسې واک لری او په حقیقت کې دا ستاسې مسوولیت دې چې د دغه لارښوونې له مخې خپلې کړنې تر سره څو وکړاې شی د ځایي شرایطو سره ځان برابر کړی.

ډیرې خبرې اترې وکړی: ژر تر ژره خپل حساس مالومات او مفکورې سره شریکې کړی. که له چاپیریال سره یې اړخ نه لګولو نو د خپلو پیژندل شوو او منل شوو اصولو پر وړاندې ودریږی . دا یوه عقلي جګړه ده، ویښ اوسی ځکه چې چاپیریال بدلیږي او دښمن ورسره ځان برابروي. که چیرې ویده اووسې نو دښمن به درڅخه مخکې وي. د برې لپاره مونږ باید د هغوی په کړنلاره پوهـ او همدا راز د هغوی او د خپل بریالیتوب او ماتې څخه باید تجربې لاسته راوړو.

مونږ (آیساف او افغان دولت) هغه وخت بریالیتوب تر لاسه کولای شو چې چاپیریال د ځایي امنیت ټینګښت له لارې بدل کړو، د ټولنې د مشرانو او خلکو سره د واکمن او باوري دولت په نږدې کیدلو کې هڅه وکړو، او د ترهګرو لپاره نورې په زړه پورې لارچارې مخکې کړو تر څو چې له ترهګری څخه لاس په سر شي. نو هغه مهال به بیا خلک د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په ملاتړ، په دغه سیالۍ کې تصمیم ونیسي.

جنرال ستینلي مکریستل
په افغانستان کې د نړیوالو مرستندویه
امنیتي ځواکونو عمومي قوماندان

د قوماندې سرخوردظابط
مایکل هال
په افغانستان کې د نړیوالو مرستندویه
امنتي ځواکونو مرستیال

د ترهګرئ پر وړاندې د آیساف لارښود: کلیدي ټکي

اصلي موخه افغانان دي. د دوی ساتنه زمونږ ماموریت دی. خپله پنځه نوي سلنه وخت له دوی سره په اړیکو جوړولو، د افغانستان له حکومت سره یو ځای د دوی د اړتیاوو په پیژندلو ولګوئ. تل پوځي پیژندل شوي اصول په پام کې مه نیسئ. خلک په پام کې ونیسئ نه اورپکي. د هغوئ د باور د لاسته راوړلو له لارې او یو مسول افغان حکومت سره د مرستې لـه لارې نه د خلکو باور لاسته راوړئ، له دښمن څخه هغه څه لاسته راوړئ چې نـه يې لـه لاسـه یـې ورکړي، چې هغه پـه خلکو واکمني ده.

خلکو ته غاړه ورکړئ:
مخکې له کړني فکر وکړئ. د خپلو کړنو پایلې درک کړئ. باید څنګه موټر وچلوئ، څنګه ګزمـه وکړئ، څنګه لـه خلکو سره اړیکي پیدا کړئ، څنګه له ټولنې سره مرسته وکړئ. د افغانـانو د سترګو لـه لارې خپلـې کړنـې وګورئ. کـه چیرې عامو خلکو ته زیان واړووو نو د خپلې ماتې تخم به مو کرلای وي.
د سیمه ایز چاپیریال په هکله ښه پوهـ اووسئ. اړیکې جوړې کړئ او رواني جرګې تر سره کړئ. افغان کلتور د خپل منځي اړیکو پر بنسټ ولاړ دی. د خلکو خبرې واورئ او لـه مخې یې کړنـه ترسره کړئ. د هغوئ اعتماد او باور لاسته راوړئ. په پای کې د دوی رضایت او ملکیت ته پراختیا ورکړئ. که دوی پکې خولې تویي کړي نو ساتي به يې هم.
په ټولنه کې مثبت ځواک اووسئ. خلک له زیان څخـه وژغورئ. ثبـات رامنځتـه کړئ. د سیمه ایزو اقتصـادي پلانونـو لـه لارې د کار فرصتونه برابر کړئ چې ځوانان د ترهګرئ نـه مخ واړوي. ********. لـه افغانـانو سـره مرسـته وکـړئ چې خپلې ستونزې هوارې کړي.

د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره ملګري شئ.

یو ځای ژوند، خوراک او روزنـه وکړئ، پـه ګډه پـلان ونیسـئ او فعالیت وکړئ، پـر یـو بلـه تکیـه اوسـئ، یـو بـل مسوول ونیسئ، په ټولو کچو حتا تر یو ټیټ رتبه سرتیري پورې. په بریالیتوب کې ورته په یوشان سترګه وګورئ.
د دوی برئ زمونږ موخه ده. ورته په درنه سترګه وګورئ. له ځانه یې مخکې کړئ او لوړتیا وروبښئ.

د حکومتدارئ وړتیاوې او مسولیتونه غښتلي کړئ:

د سیمه ایزې کچې نه تر لوړې کچې د یوې رښې حکومتدارې لپاره زمینه برابره کړئ او واک ورتـه وسپارئ. حکومتي چارواکي مجبور کړئ چې خپلو خلکو ته چوپړ وکړي، او هغه څوک چې خدمت کوي ملاتړ یې وکړئ.
له اختلاسي چارواکو سره مخالفت وښایاست. د خلکو ساتنه وکړئ چې د فزیکي ، آداري فساد، او د واک د ناوړه استفادې د زیانونو څخه وغورل شي. د خپلو افغان ملګرو سره یوځای د آداري فساد مخه ونیسئ چې پـه پراخـه پیمانـه پـه خلکو او روان ماموریت بده اغیزه ښیندي. که چلند بدل نشي نـو د افغـان مشرتابه څخـه وغـواړئ څـو پـه مناسبه کړنـه لاس پـورې کړي.

هره ورځ لا ښه شئ:
چاپیریال مطالعه او ځان ورسره برابر کړئ. خپل مهارتونه تیره وساتئ. هره ورځ پرمختګ وکړئ.
زده کړئ چې څنګه چاپیریال ته شکل ورکړئ او څنګه ژر تر ژره کولای شئ په خلکو کې ښې اړیکې پیدا کړئ. د خپلـو افغاني همکارئ څخه يې زده کړئ. خبرې وکړئ او خپلې مفکورې سره شریکې کړئ. کـه لـه چاپیریـال سـره یـې اړخ نـه لګولو نود خپلو پیژندل شوو او منل شوو اصولو پر وړاندې ودریږئ. دا د عقل او هوښیارئ جګړه ده – له غاړه غړونکو څخه وړاندې زده کړه تر لاسه، ځان عیار او اشنا کړئ.